يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُ بَطْنِهِ، فَيَدُورُ بِهَا كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِالرَّحَى

له اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی وايي هغه ته وويل شول چې: آيا ته عثمان ته نه ورځې چې (د شته فتنو په اړه ورسره) خبرې وکړې؟ هغه وويل: آيا تاسو فکر کوئ چې زه ورسره خبرې نه کوم، ځکه چې تاسو ته مې ښرته ندي اورولي؟ قسم په الله چې ما ورسره يو په يو خبرې کړي، خو نه غواړم داسې کومه خبره ډاګيزه کړم، چې زه لومړی کس اوسم په ډاګه کوم يې او نه هم هغه چا ته وايم چې پر ما باندې حاکم وي چې: هغه تر ټولو غوره انسان دی، ځکه ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: «يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُلْقَى فِي النَّارِ، فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُ بَطْنِهِ، فَيَدُورُ بِهَا كَمَا يَدُورُ الْحِمَارُ بِالرَّحَى، فَيَجْتَمِعُ إِلَيْهِ أَهْلُ النَّارِ، فَيَقُولُونَ: يَا فُلَانُ مَا لَكَ؟ أَلَمْ تَكُنْ تَأْمُرُ بِالْمَعْرُوفِ، وَتَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ؟ فَيَقُولُ: بَلَى، قَدْ كُنْتُ آمُرُ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ، وَأَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ». «د قيامت په ورځ به يو سړی راوستل شي او اور ته به واچول شي، نو کولمې به يې راووځي، هغه به خپلې کولمې په ځان پسې راکاږي او داسې به تاويږي لکه څنګه چې خر مېچن تاووي، نو دوزخيان به ورته راټول شي، وايي به: اې فلانکيه، په تا څه شوي؟ آيا تا به خلکو ته په نېکۍ امر نه کاوه او له بدۍ به دې نه منع کول؟ نو وبه وايي: هو، ما به په نيکۍ امر کاوه او خپله به مې نه کوله، او له بديو به مې خلک منع کول او خپله به مې کوله».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

اسامة بن زيد رضي الله عنهما ته وويل شو: آيا عثمان بن عفان رضي الله عنه ته نه ورځې چې د هغه فتنې په اړه ورسره وغږيږې چې د خلکو تر منځ راپاريدلې ده، تر څو يې ختمه کړې، نو هغه ورته وويل چې په پته يې ورسره د اصلاح لپاره خبرې کړې دي، نه دا چې فتنه راوپاروي، موخه يې دا وه چې نه غواړي د خلکو په مخکې په واکمنانو نيوکې وکړي، ځکه دا کار د خليفه په وړاندې يو ډول جرات دی، چې دا په خپله د شر او فتنې دروازه خلاصوي، حال دا چې زه نه غواړم لومړی کس اوسم چې دا دروازه خلاصوي. بيا اسامة رضي الله عنهما وفرمايل: چې دی په پته واکمنانو ته نصيحت کوي او هيڅا ته چاپلوسي نه کوي که هغه امير هم وي، او تملق ورته هم نه کوي چې د هغوی په مخکې يې ناحقه ستاينه وکړي، دا ځکه چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي و چې د قيامت په ورځ به يو سړی راوستل شي او په اور کې به واچول شي، نو د سختې ګرمۍ او سخت عذاب له امله به يې په تېزه سره کولمې له ګېډې د باندې راووځي، نو په همدې حالت کې به خپلې کولمې د ځان پسې راکاږي او تاويږي به لکه خر چې د مېچن تاوولو لپاره تاويږي کله چې پرې اوړه کوي، نو دوزخيان به پرې د کړۍ په خبر راټول شي او پوښتنه به ترې وکړي چې: آيا تا مور ته په نيکۍ امر نه کاوه او له بديو دې نه منع کولو؟! نو دی به ووايي: ما په نيکۍ امر کاوه خو خپله مې نه کوله، او له بديو مې (خلک) منع کول او خپله به مې بدي کوله.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3345